محمد هارون خپل شعشعي

۲۴ نومبر ۲۰۱۲

## د
## علي محمد مُخلِص
## عرفاني فرهنګ
## د
## محمد هارون خپل شعشعي
## ليکنه او څېړنه
## ۶۹

### ۱۳۷- کشف، اِلهام او وحي :

کشف په لغت کي لڅولو، برمندولو/ بربندولو، ښکاره کولو، څېړني، تحقيق، کتني او داسي نورو ته وايي[۱]. کشف او الهام، په اسلامي تصوف او عرفان کي د جبروت او ملکوت د عالمو په باب د عرفاني سالک د داسي پوهي اوخبرتيا په مفهوم کاريږي، چي دغيب له لاري تر لاسه سوي يي (وي) . دا پوهه او خبرتيا د شيانو په ظاهري بڼواو پټو حقايقو پوري اړه لري، چي لومړي ته صوري کشف او دوهم ته يي مانوي ( معنوي) کشف وايي . په لنډه توګه، مکاشفه د سالک پر زړه د شيانو د ماهيت او اسرارو څرګندېدل او په خپل لوړ او وروستي پړاو کي د الهي تجلياتو او الهي صفاتو ښکاره کېدل دي .

د الهام په اړه د رسول الله ( ص) په يوه حديث کي راغلي دي : « الالهام نور ينزل فی قلب يعرف به حقيقة الاشياء کما هی » ياني الهام هغه نور دئ، چي پر زړه نازلېږي؛ او په هغه سره د شيانو حقيقتونه، په خپله اصلي بڼه پېژندل کيږي[۲] .

داسلامي علومو او تصوف نامتو شيخ - امام غزالي ( ۴۵۶- ۵۰۵ هـ ق) په خپل مشهور اثر « احياء العلوم » او ځينو نورو عرفاني ليکنو کي د حقيقت پېژندني د ارزښتناکي سرچيني په توګه، کشف ته هغه مهال له وحي سره برابر درېځ ورکيي، چي د قرآن او سُنت له روښانه اونه بدلېدونکو حُکمو سره تضاد و نه لري[۳] .

د اسلامي عرفان وتلي او منلي نظريه پرداز - شيخ عزيزالدين بن محمد نسفي (۶۳۰ - ۷۰۰هـ ق) په خپل مشهور عرفاني کتاب « کشف الحقايق » کي د وليانو د الهام او کشف اساسي ټکی داسي کړي دي : « هغه څوک، چي د رياضتو او مجاهدو په مرسته ځان له دننه او دباندي تعلقاتو، موانعواو حجابو څخه و ژغوري، تر پيښېدو مخکي د هر هغه څه په ماهيت او احوال خبريږي ،چي موده وروسته د مادي عالَم پر را برسېره کيږي[۴] .

» شيخ نسفي، په خپل بل عرفاني شهکار « انسان الکامل » کي د الهام، خوب او وحي د پېژندني او بېلولو په

اړه داسي ليکي : « که د اسماني ملايکي له خوا په ورځ کي د انسان و زړه ته پيغام ورسيږي، نو دې ډول پيغام رسوني يا القا ته الهام ويل کيږي . که دا پيغام رسونه په خوب کي وسي، بيا نو هغه ريښتينى خوب دئ . که اسماني ملايکه يا پريښته مځکي ته راسي؛ ځان په مصوره بڼه پيغمبرانو ته ښکاره کړي؛ او د خداى خبره هغوى ته ورسيي، دا نو وحي ده [۵]. »

په مغولي هند کي د شريعت او تصوف لوى مُصلح - شېخ احمد کابلي سرهندي، په مجدد الف ثاني ملقب ( ۹۷۱- ۱۰۳۴ هـ ق) کشف ته د پوهي د داسي خپلواکي سرچيني په سترګه نه ګوري، چي د وحي په شان يا له وحي سره موازي ارزښت ولري . د شېخ سرهندي له نظره، کشف يوازي د ايمان د موضوعاتو په اړه، د نبوي وحي ترجمان دئ[۶] . د شېخ احمد په عقيده، د صوفيانو کشف د اسلامي مجتهدينو د اجتهاد پر خلاف، ريښتينى او بشپړ نه دئ . داډول کشف ځيني وختونه سم او ډاډمن ؛ خو په ځينو حالاتو کي ناسم او بې باوره يي.

دعرفاني او تصوفي اثارو ځينو نورو څېړونکو او شنونکو، کشف د هغو روحاني اسرارو د لڅولو او څرګندولو په مانا ليکلئ دئ، چي دمحاضرې او مشاهدې له لاري کيږي . د دې ډلي پوهانو او ليکوالو له نظره، په محاضره کي هوښ او عقل، وروستيو نتيجو ته د رسېدو وسيله ده؛ حال دا چي په مشاهده کي شخصي پوهه د وَجْد او بې هوښۍ ثبوت دئ[۷] .

الهام په لغت کي د تلقين کولو، القا کولو يا زړه ته اچولو په مانا راغلئ دئ[۸] ؛ خو د متصوفينو او عارفانو په اصطلاح، الهام د حق تعالى له خوا د انسان ( کامل) و زړه ته د پيغام لېږلو په مفهوم کاريږي . د اسلامي تصوف په پراخه لمن کي د « الهاميه » په نامه يوه تصوفي ډله هم تېره سوې ده، چي په ځينو عقايدوکي له قرمطيانو( د اسماعلي شيعه ګانو يوه ډله) سره هم رنګي او ورته والي لري[۹]. . .

لکه څنګه چي اجتهاد د دين د پټو او پېچلو مسألو په باره کي د نوي قواعد او اصول بيانيي، صوفيان اوعرفاني مفکران په خپل وار سره استدلال کيي، چي الهام هم د ايمان د داسي پټو موضوعګانو په اړه مالومات رابرسېره کيي، چي عام خلګ يي د پوهېدو او پېژندلو وس نه لري . امام غزالي په « احياء العلوم » کي د الهام په باب خورا په زړه پوري بيان لري . د ده په نظر که عِلم بې دليله او بې اکتسابه تر لاسه سي يا داسي بڼه ولري، لکه چا چي په زړه کي ور اچولئ يي، نو دې پوهي او خبرتيا ته الهام ويل کيږي . د دې پر خلاف، که پوهه د استدلال له لاري تر لاسه سي، هغه ته بيا اعتبار يا استبصار وايي . د شېخ غزالي په اند، الهام دوه ډوله دئ :

يو ډول الهام داسي الهام دئ، چي چاته يي د القا لورى او سرچينه نه مالوميږي . په بله ژبه، مُلهِم ( د الهام تر لاسه کوونکئ) نه پوهېږي، چي زړه ته ورغلئ پيغام يا پوهه څرنګه او له کمه (کومه) ځايه القا سوه . دې ډول الهام ته د غزالي په عرفاني ژبه « نفخ فى القلب » وايي . د الهام دا ډول، د علماوو او اصفياوو دپاره دئ .

دوهم ډول الهام، داسي الهام دئ، چي مُلهِم د هغه په لوري او سرچينه پوهېږي . په بله وينا، الهام موندونکئ پوهېږي، چي پريښتو يې الهام په زړه کي ور واچاوه . دې ډول الهام ته وحي وايي، چي يوازي پر انبياوو نازليږي . د امام غزالي له عرفاني نظريو سره سم، د استدلال او اکتساب پوهه د عالمانو دپاره ده .

د شېخ مجدد الف ثاني په عقيده، کېداى سي الهام هم د کشف په څېر، ظني او غير حقيقي بڼه ولري . د ده په نظر که چيري د کشف او الهام په رڼا کي د صوفي يا عارف پيغامونه او نظريي د اسلام د منلو ډوکتورينو او د سُنت و جماعت د عالمانو له اجتهادي نظريو سره مخالفت او تضاد ولري، په داسي حالاتو کي بايد د صوفيانو کشف او الهام، د هغوى د بې هوښۍ يا سُکر نتيجه وګڼله سي[۱۰] .

د پښتنو وتلي عرفاني مفکر- بايزيد روښان اورمړ ' انصاري' ( ۹۳۱- ۹۸۰ هـ ق) هم په خپلو عرفاني نظريو کې د صوفيانو او عارفانو پر کشف او الهام ټينگ باور لري . روښان په خپله هم ځان دکشف او الهام څښتن بولي؛ او د خپل کشف اوالهام په باب يې د وخت له يوه مشهور ديني عالِم، مولانا زکريا،سره د يوې علمي او عرفاني مناظرې په تر څ کې د رسول الله ( ص) پر دې مبارک حديث استناد کړئ دئ : « قلب المؤمن اکبر من العرش و اوسع من الکرسی و القلوب مع القلوب يشاهد » ياني د مؤمن زړه تر عرش لوی او تر کرسی پراخ دئ . . . د ميا روښان په عقيده، يوازې په دغه راز ځانگړتياوو او صفاتوسمبال زړه د کشف او الهام سرچينه گرځېدای سي؛ نه د هر انسان په ټټر کې د وينو او غوښو زړه، چې په نورو حيواناتوکې هم پروت دئ ۱۱ .

زموږ عارف شاعر، علي محمد مخلص، په « حالنامه » کې د وحي، الهام او وسوسې په اړه د پير روښان او د کابل د مغولي واکمن، حکيم ميرزا، د دربار د عالِم او عادل قاضي، قاضي خان، د سوال و جواب په زړه پوري کيسه راوړې ده، چې لنډه يادونه يې د دې عرفاني او فلسفي بحث علاقمندانو ته بې گټې نه ده . قاضي خان د پښتنو له عرفاني لاربنود، پير روښان، څخه پوښتنه وکړه : « اروېدل کيږي، چې وايې پر ما وحي کيږي . » پير روښان يې په جواب کې و ويل : « ناسم وايي[ حاسدانو او سياسي مغرضينو ته اشاره ] . زه وايم ماته الهام راځي؛ او غيبي ږغ اروم .» بيا يې پوښتنه ځني وکړه : « د وسوسې او الهام، رحماني او شيطاني ږغ تر منځ څنگه توپير کيې؟ » پير دستگير قدس سره ورته و ويل : « د ايات، حديث او د شيخانو د ويناوو له مخې، د الهام او وسوسې، رحماني او شيطاني ږغ ترمنځ توپير کوم . هر هغه ږغ او الهام رحماني ږغ يا الهام گڼم، چې له ايات، حديث او د شيخانو له ويناوو سره سمون ولري؛ او هغه ږغ يا الهام ته د وسوسې او شيطاني ږغ په سترگه گورم، چې له ايات او حديث سره سمون ونه لري۱۲ . » په دې توگه، پير روښان د سياسي دوښمنانو او مخالفينو د تکفير له توره په احترام او عزت ځان ژغوري .

زموږ مُبتکر او مفکر عرفاني شاعر، علي محمد مخلص، هم په خپله پښتو او پارسي شاعرۍ کې د الهي وحي او الهام په باب خورا لوړ خيالونه او ژور فکرونه بيان کړي دي . په يوه غزله کې هغه زړه ته د وحي او الهام د مقام په سترگه گوري، چې د شيطاني وسوسو او ناوړو انديښنو له اېتو ژغورلئ يي :

زړه د وحي، الهام ځای دئ

وسوسه ځني وتراشــه

وسوسه پر زړه پرهــار که

په بد فکر يي مه خراشه

په بله غزله کې د وحي او الهام په نور د هغه چا زړونه روښانه گڼي، چې غوږونه يې د الهي مخلوقاتو ثنا او تسپو ته پرانيستي يي؛ او خپل ټول وجود يې په همېشني ذکر سره وينښ ساتلئ يي :

د الهام، وحي کلام هغه باورکـه

هر چي غوږ يي خبردار وي له سروشه

هر زمان به يي آواز په دنيا آروي

هر چي زړه يي دئ گويا ژبه خاموشــه

بل ځای، د حق فکراو ذکر، کشف او الهام ته د رسېدو لار گڼي؛ او د هر هغه چا په غلامی وياړي،چې زړه يي د الهي کشف او الهام په نور روښانه سوئ يي:

د غايب هاتف آواز به په غوږ واروي

که پنبه د غفلت وکاږي له گوشــه
هر چي عِلم د الهام شي باندي کـشف
دا مخلص یي دئ غُلام حلقه بگوشه

د الهي وحي او الهام مسأله د مخلص په پاړسي شاعرئ کي هم خاص ځای او مقام لري . په یوه پاړسي مثنوي کي د قرآني او نبوي لاربنوونو له مخي، د انبیاوو او اولیاوو د وحي او الهام موضوع داسي بیانیي:

« انبیاء را وحــی می آید به نام
از خداوند جهان بشـــنو کلام
جبرئیلش هست پیغمبر بدوست
تا رساند وحی آن دلبر بدوست
بر ولی آرد ملایم خوش سـروش
یعنی الهام خدا آرد بدوش
در دل مؤمن در انداز خـــبر
آگاه و واقف کند از خیـر و شر
هرکه مؤمن است داند از ربــی
بر ولی الهام، وحی بر نبــی
هر که را خواهد خدا فاضل کند
عِلْم آن سرور برو نــازل کند۱۳ »

د نورو مالوماتو دپاره وگورئ : ابدال، ابرار، اوتاد، توحید او د هغه ډولونه ( عام، خاص او خاص الخاص توحید)، سرهنگان یا اخیار، قطب، قطب الاقطاب، غوث، غوث الاعظم یا غوث زمان یا صاحب الزمان ، کامل شیخ، کامل پیر یا کامل انسان، کامل او ازاد ، معجزه، کرامت او استدراج ، نبي او ولي، نقیبان، ولي او ولایت .

**لمنلیکونه**

۱ عمید ۳: ۱۹۷۲ ؛ Wehr 829 .

2 Ansari 73 .

۳ مخلص، حالنامۀ بایزید روښان ۱۹۴.
۴ نسفی، کشف الحقایق ۸۰ - ۸۱ .
۵ نسفی، انسان الکامل ۳۲۴ .

6 Ansari 72 .
7 Shushtery 75.

۸ عمید ۱: ۲۶۸ .
۹ عمید ۱: ۲۶۸ .

10 Ansari 72 .

11 David Shea and Anthony Troyer 349.

۱۲ مخلص، حالنامۀ بايزيد روښان ۳۳۸ .

۱۳ مخلص، حالنامۀ بايزيد روښان ۱۹۵- ۱۹۶.

پاته لري